ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلّہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

حسن زیب
ڈاکٹر اصل مرجان (محب وزیر)

# رحمان بابا د تمثیلونو شاعر

**Hassan Zaib**
**Dr. Asal Marjan (Muhib Wazir)**
**Email:** alamdawar022@gmail.com

## Rehman Baba: The Poet of Allegories

This study examines the use of allegory in the poetry of Rahman Baba, a renowned Pashto classical poet. The research aims to demonstrate how Rahman Baba effectively employs allegory in his work. The findings of this study reveal that Rahman Baba's mastery of allegory is a hallmark of his poetic style. The study concludes that a detailed analysis of Rahman Baba's poetry, as well as that of other Pashto classical poets, is necessary to further identify and understand the allegorical elements in their work. This research contributes to a deeper understanding of Pashto classical poetry and its literary devices.

**Key Words:** *Pashto – Classic - Poetry – Metaphor - Allegory – Style – Continues narration – Rhetorical devices – Literary beauties.*

تمثیل ته پهٔ انګریزۍ کښې الېګري Allegory وائي. دا یو ادبي صنعت ګڼلے شو چې کارولو سره یې یوه ادبي فنپاره پهٔ خپل ځان کښې د ښکاره معنې نه پرته یوه پټه او ژوره معنا ځایوي او لوستونکي ته یو درس ورکوي. الېګري د ډرامې پهٔ معنو کښې هم اخستے شي ځکه چې پهٔ ډرامه کښې هم کردار لوبونکے د خپل ځان نهٔ بلکې د بل چا د کردار نمائنده وي. تمثیل نګاري کهٔ یو خوا ادب ته خوند رنګ او دلچسپي وربخښي نو بل خوا دا

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

يو پېچلے خيال اسانوي چې مطلب يې پۀ اسانه پۀ ذهين كښې كښېني. د تمثيل د پېژندګلو لۀ پاره د بېلا بېلو پوهانو نظرئې دلته رانقل كوو.

چې يوه شكاره معنا او بله پټه معنالري او يو سبق پكښې پروت وي.[۱] د يوې موضوع بيان د بل څيز پۀ څېر كول تمثيل دے.[۲]

د يو څيز عكس جوړول ، د بل څيز پۀ څېر كول ، مثالونه يې بيانول تمثيل دے. دا انځورونه به هوبهو د دويم څيز پۀ شان وي او لوستونكے به ګمان كوي چې ګني هغه څيز وينم.[۳] مثالونه راوړل ، يوشان شودل ، نقل كول ، پۀ ډرامه كښې قيصه پۀ عملي شكل بيانول.[٤] خوشحال خان خټک د تمثيل د مثال پۀ معنا كارولے دے:

"ما چې خلفاے اربعه، اصحاب و امامان بني اميه بني عباس درته ياد كړل مقصود مې د اعلا مرتبې وو، سنجر و محمود مې چې درته ياد كړل مطلب د وسط او ادني څۀ هسې نۀ چې هم دا دوه تېر شوي دي. نه تېر شوي ډېر دي، دا مې خو مقصود تمثيل وو، پۀ بني اميه كښې يذيد پليد هم تېر شوي دي".[٥]

بل ځاے بيا خوشحال خان خټک د خپلې شاعرۍ پۀ بابله وائي:

هر كلام مې واردات دے يا الهام دے
چې موزون مې پۀ تقطيع د بحر بند كړ
پۀ تشبيح او پۀ تمثيل پۀ نزاكت كښې
عزوبت مې د خبرې چند درچند كړ[٦]

تمثيل يعني نمائش او ننداره خو چې پۀ سټېج پۀ ازاده هوا كښې وكړے شي او حركتونه پكښې شامل وي.[۷]

“An allegory is a work in which characters، places، and actions represent broader ideas or concepts. Allegories often make use of other

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03



> literary devices like personification، symbolism، and extended metaphor to more effectively make a point”.[8]

شاعري پهٔ تمثیلونو ولاړه وي. چې پهٔ کوم شعر کښې تمثیل او محاکات نهٔ وي نو هغه شعر نهٔ دے.[۹]

پهٔ تمثیل کښې دواړه څیزونهرخامخا یوبل ته ورته وي. یو څیز به د بل څېر وي. دواړه څیزونهیو شان معنې ورکوي او د یو بل استازیتوب کوي. تمثیل د یو بل نقل وي لهٔ دغې وجې د ډرامې پهٔ معنو کښې هم اخستے شي. څهٔ خلق تمثیل نه د اشارې او د تشبیه معنا هم اخلي.دا کلمه له لرغونې زمانېڅخه تر نن ورځې پورېتولو شاعرانو او لیکوالانو چرته کم کوز پهٔ لغوي معنې سره کارولې ده. اودغه وجه ده چې تمثیل نګارۍ ځان د یو جدا فن پهٔ شکل کښې نهٔ دے ښودلےاو اصطلاحي معنې یې خوندي پاتې شوي دي.[۱۰]

تمثیل نګاري اردو کښې لهٔ پخوا نه موجود وه خو تر نولسمې پېړۍ پورې چا نهٔ پېژنده. محمدؐ حسېن ازاد وړومبے سړے وو چې د دې پېژندګلو وکړه او د"ایلېګري' معنا یې تمثیل نګاري وکړه.[۱۱]

دا د پېښېبیانولو یو اسلوب دے څکه چې دا بې لهٔ شکه یو بیانیه بنسټ ته اړتیا لري. د قیصې واقعات چې پهٔ څرګند ډول یو بل اړوند تصورته اشاره کوي نو هغې ته تمثیل وائي. دغه پېښې د تاریخ، اخلاقو، فلسفي او یا د قدرت نور مظهرونه کېدے شي. خیالي قیصې د تمثیل سره نزدې تړاو لري.[۱۲]

دوه معنې لرنکي ادبي ټوټه چې داخلاقي درس لهٔ پاره مجردات پهٔ تجسیمي شکل کښې وړاندې کوي. ښېګړه، بدي، حرص، غلامي، بهادري او بزدلي یا دغه شان نور کردارونه د انسانانو پهٔ څېر

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

وړاندي کولے شي. تمثیل مقصد یو درس ورکول وي ځکه په حکایتي رنګ کښې وي خو اوږدۀ وي. دا یو لرغونے اسلوب دے. په مذهبي او اساطیري عقیدو کښې تمثیلونو موندے شي. د انجیل او قران بلها ډیر بیانونه په تمثیلي انداز کښې دي. "پنج تنتر"، "انوار سهیلي" او"سب رس" تمثیلونه دي.[۱۳]

ځیني لیکوالان په تمثیل او رمزیه کښې هیڅ توپیر نۀ کني خو په حقیقت کښېرمز اشاري او علامت ته وئیلے شي. تمثیل د ادب یو جدا صنف نۀ دے بلکې یو انداز دے. د ځیني لیکوالانو دا خبره چې چې په تمثیل کښې به خامخا غېر مرئي څیزونه د مرئي څیزونو په شکل کښې وړاندې کولے شي هم بې دلیله ده. په ډېرو تمثیلونو کښې ځناور د انسانانو د کردار په توګه وړاندې کولے شي او لا خو په ځیني تمثیلونو کښې یو انسان د بل انسان د کردار استازے وي. د تمثیل لۀ پاره دغه رنګې هیڅ قېد نشته.

تمثیل د لیکلو یو انداز دے چرته چې دروانو تشبیهاتو او استعارو په مرسته په یوه موضوع باندې په خیالي توګه خبره کیږي.[۱۴]
تمثیل د مسلسل استعارو یو زنځیر دے چې کردارونه، وخت او ځاے پکښې بدل وي خو د قیصې اصلي مقصد هم هغه وي د کوم د پاره چې دا کردارونه نمائندګي کوي.[۱۵]

> "په تصویري ژبه کښې د موجود تصوراتو ترجمانی ته تمثیل وئیلے شي. تمثیل نګاري هغه ټوټه وي چې دوه سطحې لري یوه ښکاره افسانوي سطح او بله پټه. تمثیل نګاري یو صنعت دے او یا دا هم وئیلے شو چې تمثیل نګاري د اظهار یو ځانګړے طرز دے. د اوږدو استعارو مسلسل بیان دے کوم چې پیچلې او ژورې معنې لري.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

خبره یوه وي او معنا ترې بله اخستے شي".[۱۶]

تمثیل هغه ادبي صنعت دے په کوم کښې چې د یو کردار نمائندګي د بل کردار کوي یعنې په تمثیلي لیک کښې د ښکاره معنې نه پرته یوه بله او ژوره معنا پرته وي. د تمثیل په دواړه کردارونو کښې څۀ نه ورته والے وي. دا د اوړدو او مسلسل استعارو یوه لړئ وي. تمثیل یو مرکزي خیال لري او مقصد یې یو اخلاقي درس ورکول وي. لیکلوال چې کله د یو ګران خیال اظهار د تمثیل په صورت کښې وکړي نو لوستونکے پرې په اسانه پوهه شي. د تصوف پېچلې مسئلې چې د تمثیل په رنګ کښې وړاندې کړے شي نو اسانې شي. تمثیل د لوستونکي توجوه خپل اړخ ته راګرځوي او په فنپاره کښې ادبي ښکلې پېدا کوي. د تمثیل صنعت په نظم او نثر دواړو کښې کارولے شي. تجسیم ته تمثیل وئیل یوه غلط فهمي ده چې د مقدمینو لۀ خوا شوې ده. د ماشومانو په ادب کښې د ډینګ او لومبړې یا د لالچي سپي قیصې د تمثیل نمونې دي. کۀ په نړیوال ادب باندې نظر وزغلوو نو د تمثیل نګارئ غوره نمونې پکښې په ښکاري. قران او انجیل ځینې تمثیلي واقعات لري. په انګریزئ کښې د ایډمنډ سپنسر"فیرې کوئین" یو پوره تمثیلي لیک ګڼلے شي په کوم کښې چې سیاسي او سماجي ستونزې چېړلې شوي دي. د جائسي "پدماوت" پۀ هندي ادب کښې د تمثیل نمونه ده کومه چې د تصوف مسئلې د خپلو کردارونو په مرسته بیانوي.د اردو په لرغونې ادب کښې د سید محمدؐ ګېسو دراز "شکار نامه" هم په تمثیلي انداز لیکلے شوې ده. "سب رس"د ملا وجهي یو شاهکارتمثیل دے. دغه رنګې د محمدؐ حسین ازاد "نیرنګ خیال" یو پوره تمثیل منلے شي. کۀ په پښتو کښې د کلاسیکي شاعرئ پلټنه وکړےشي نوبلها تمثیلي رنګونه به رابرڅېره شي.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

د خوشحال خان خټک پۀ کلیاتو کښې د تمثیل نمونې شتون لري لکه چې وائي:

کدو مې د چنار پۀ ونه وختو
و چنار ته یې اغاز کړ دا مقال
چې تۀ د څو کلونو یې چناره
را ته ووایه خپل عمر خپل احوال
چینار ووې د دوه سو کالو زه یم
پۀ حساب کښې ګوندې کم وي یو نیم کال
کدو ووې هاې خو تۀ پۀ مدت لوې شوې
دا یم زۀ درسره سم شوم دم درحال
چینار ووې چې وخت سخت د څلې راشي
زۀ او تۀ به سره زده کړو هاله حال [17]

پۀ دې شعرونو کښې هغۀ د دوه بوټو تر مینځه مکالمه وړاندې کړې ده او یو لوې سبق یې بیان کړے دے چې کله یو څوک پۀ لنډو لارو د کامیابۍ منزلونو ته ځان رسوي نو کۀ کامیابي تر لاسه هم کړي خو دغه کامیابي ډېره عارضي وي. د کامیابۍ لۀ پاره بلها ډېر وخت او ډېرې هڅې پکار وي. دغسې نور د تمثیل مثالونه هم د خوشحال خان خټک پۀ کلام کښې موندۀ شي لکه چې وائي:

چرګ چې بانګ کا پۀ خپل وخت
څوک یې مۀ بولي کمبخت
چې بې وخته بانګ اغاز کا
سیخ ته ورولي خپل وخت [18]

د پښتو په کلاسیکي شاعرۍ کښې نورې هم نمونې موندل کېږي خو دلته زمونږ کومه تفصیلي مطالعه نه غرض دے او نه غایت ، بلکې محض د خوشحال خټک د شاعرۍ د نمونې په ترڅ کښې مو دغه روایت ته اشاره کول مقصد وۀ ـ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلّہ

د رحمان بابا تمثیل نګاري:

رحمان بابا د پښتو د شعري ادب هغه اواز دے چې انګازې یې په درسته پښتنه سیمه باندې خورې دي او تل تر تله به د دغه انګازې اورېدې شي. د رحمان بابا په شاعری کښې د شعر سره تړلي ټول لوازمات موندے شي. د هغهٔ شاعري کهٔ یو خوا ډېره اسانه ده نو بل خوا د صنایعو او بدایعو نه ډکه هم ده. هغهٔ د پښتو ادب پهٔ دغه وړومبی ورځو کښې د خپلو شعرونو سره پوره پوره انصاف کړے دے،کوټلي او پهٔ ټول پوره شعرونه یې لیکلي دي. څنګه چې وئیلے شوي دي چې پهٔ ادب کښې د تمثیل غرض یو سبق ورکول وي نو د رحمان بابا کلام خو به خامخا د تمثیل نګاری نمونې لري ځکه چې رحمان بابا خو پهٔ حېث د یو ناصح پېژندلے شي. هغهٔ کهٔ یو خوا دغه نصیحتونه پهٔ ساده ټکیو کښې بیانوي نو کله کله پکښې د تمثیل رنګ هم ګډ کړي لکه چې د دوران د تېرېدو خبره کوي نو داسې وائي:

دغه باغ به دې خلاص نهٔ شي لهٔ خزانه
کهٔ چاپېر ورځنې سد د سکندر کړې[۱۹]

څنګه چې معلومه ده چې تمثیل د مسلسل استعارو یوه لړی وي نو پهٔ دې شعر کښې هم پهٔ استعاره پسې استعاره پیئلے شوې ده. باغ د ژوند لهٔ پاره, خزان د تېرېدو لهٔ پاره, د سکندر سد د کوښښ لهٔ پاره کارولې شوې استعارې دي او د شعر مفهوم دا دے چې کهٔ یو انسان هر رنګې کوښښ وکړي د وخت د نهٔ تېرېدو لهٔ پاره هر یو تدبیر راوړي خو بیا هم دا ژوند او دا دوران پهٔ یو ځاے نهٔ شي ودرولے. دا به خامخا تېرېږي. پهٔ دې تناظر کښې یې یو بل تمثیلي شعردا رنګې دے:

ودانی یې همه واړه ویرانی دي
راشه وګوره مانی د کیکاوس[۲۰]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

دا شعر چې د تمثیل په ترڅ کښې ولټو نو راته به ښکاره شي چې د کیکاوس باچا ودان محلونه د ژوند له پاره کردارونه لوبوي، چې کله دغه ماڼیو نړېدل او ورانېدل د مرګ او زوال کردار لوبوي. که دغه ډرامائي کردارونه خپل کار تر سره ورسوي نو لوستونکے او کتونکے په دې پوهه شي چې د دنیا ژوند او شان شوکت زوال لري او یو وخت راشي چې دا هر څه ختم او ورک شي.

څنګه چې په فارسي شاعرۍ کښې د ګل او بلبل او بیا د ګل سره د ازغو تذکرې کیږي نو دغه روایات په پښتو کلاسیکي شاعرۍ کښې هم په نظر راځي. رحمان بابا د ګل سره د بلبل مینه او بیا د ازغو ظلم تمثیل کوي او وائي:

هیڅ بلبل به د ګل نوم اخستے نه وو
که خبر وو چې ګل نه دے خار دے دا[21]

دا شعر که راسپړو نو یوه بله معنا پکښې راښکاره کیږي چې محبوب که یو خوا د ښائست سره سره ښه خویونه او بېشمېره خوبیانې لري خو بل خوا پکښې د بې وفائۍ عادتونه هم دي او عاشق چې کله په دغه ازغو ژوبل شي نو بیا ګوتې مروړي چې هډو مینه مې نه وه کړې خو وخت ترې تېر شوے وي. رحمان بابا په دغه شعر کښې هم د ځان ساتلو نصیحت کړے دے.

پتنګانو لره ورکړه خدائے په اور کښې
هغه عیش چې یې بلبلې په ګلزار کا[22]

کوم خوندونه چې بلبلانو ته د ګلونو په صحبت کښې مېلاوېږي هغه خوندونه پتنګان په اور کښې مومي. د دې شعر ژور مفهوم چې راوسپړو نو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

پوهه شو چې ځيني خلق د دنيا په عارضي خوندونو اموخته وي کوم چې په اسانه ترلاسه کيږي خو بيا ځيني خلق په کړاونو او سختيو کښې خوندونه لټوي او دغه خوندونه بيا يو په دوه وي. کۀ د پتنګانو نه مراد هغه خلق واخلو کوم چې د خدائے په ذکر او عبادت کښې مشغول وي چې د ورځې روژې نيسي او د شپې شوګيرې کوي او دغه رنګې د بلبل نه مراد هغه خلق واخلو کوم چې د دنيا په عيش و ارام کښې بوخت وي نو د دې شعر ژور مفهوم به واضح شي.

ژور مضمون په اسانو ټکيو کښې بيانول هم د رحمان بابا يو ځانګړے خاصيت دے. په لاندينې شعر کښې کۀ هغه يو خوا د مثاليه اسلوب څخه کار اخستے دے نو بل خوا يې پکښې تمثيلي رنګ هم ګډ کړے دے.

د بلبلو نغمه زاغ کولے نۀ شي
هر سرود اواز په طور د خپل تار کا[٢٣]

د دې شعر د ښکاره او اساني معنى نه پرته بله معنا دا کولے شو چې يو څوک د کوم کار ماهر وي نو هم هغه کار کول ورله پکار وي. کۀ په هر يو کار کښې ځان ته ماهر ووائي نو هيڅ مهارت به ښکاره نۀ کړي بلکې ځان به د خندا او تنقيد مخې ته کړي. د شعر دويمه معنا يو ښۀ سبق لري چې عمل کول پرې پکار دي.

بلبل څۀ لره بې ځايه ګفتګو کا
ګل څۀ نۀ وائي چې غرق په وينو ناست دے[٢٤]

د دې شعر وړومبى معنا خو دا شوه چې د ګل پاڼې سرې وي نو دغه سور رنګ د وينو رنګ دے او ګل هر وخت په سرو وينو کښې ډوب ناست وي خو کله هم د دغه سرو وينو په حالت چغې نۀ وهي او نۀ فريادونه کوي خو بل خوا ته بلبل هر وخت ولې چغې وهي او بې ځايه خبرې کوي.دا شعر تمثيل نګارى يوه غوره نمونه ده ځکه چې په

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

دویمه معنا کښې شاعر وائي چې ځینې خلق په ډېر تل تر تله په تکلیف او مصیبت کښې وي خو بیا هم صبر کوي او د صبر سره د خپل استطاعت مطابق د نورو خلقو د راحت او سکون ذریعه هم جوړیږي یعنې نورو انسانانو ته خېر هم رسوي خو ځینې خلق داسې وي چې په لږ شان تکلیف کښې په چغو سر وي. او نۀ خو بل ته څۀ ګټه ورکوي او نۀ پخپله د ځان تسلي کولے شي. دا شعر په خپله ځان کښې یو نصیحت هم لري چې کله څوک خپل تکلیف په لوے زړۀ باندې وزغمي او د تکلیف سره سره د نورو خلقو په کار هم راشي نو دغه انسان کامیاب وي او د خلق ورسر د ګل په شان مینه هم کوي او ارزښت یې هم زیات وي. د شېدا یو شعر هم په دغه ډول دے چې وائي:

هیڅ ناله نشته د ګل په سرو لمبو کښې
عندلیب په چغو سر ولې غوغا کا[۲۵]

چې یې زړۀ وي په هوا پورې تړلے
د حباب عمارت ځکه بقا نۀ کا[۲۶]

رحمان بابا د خپل تخیل په زور دا خبره کوي چې د ببربوړکۍ وجود په هوا باندې منحصر دے نو ځکه یې ژوند لنډ تنګ وي. دا هم یو ښۀ تمثیل دے چې کوم خلق خپل ځان د بل چا محتاج ساتي او د خود داره نۀ وي نو هغه په ژوند کښې هیڅ پرمختګ نۀ شي کولے نه یو مرام تر لاسه کولے شي. په دې شعر کښې د خودداری درس پروت دے.

کۀ بې ځایه زرکې نۀ وکښے اواز
نۀ صیاد ځنې خبر وو نۀ شهباز[۲۷]

ښکاري او باز د زرکې غږ ته غوږ وي چې کله یې واوري نو د مخې سره پرې حمله اوکړي او زرکه خپل ژوند د لاسه ورکړي. خو کۀ زرکه غلې پاتې شي او بې ځایه چغې نۀ اوباسي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03



نو بیا نهٔ خو ښکاري خبرېږي او نهٔ باز. د رحمان بابا دا شعر پهٔ ځان کښې یوه ژوره معنا لري او هغه دا چې یو انسان له پکار دي چې هغه بې ځایه او بې موقعي شور او زوږ نهٔ جوړوي کنه بیا به ورته ډېرې ستونزې مخې ته راځي او پهٔ مقصد موندلو کښې بهٔ ناکام کیږي. شعر د نصیحت نه ډک دے او غور وړ دے.

کهٔ یې اصل لهٔ یوې زمکې دے څهٔ شو
پیر به سرو صنوبر نهٔ شي هرګز۲۸

پهٔ دې تمثیلي شعر کښې رحمان بابا دا خبره واضحه کول غواړي چې پهٔ هر چا کښې خپل ځانګړي خصوصیات وي. ځیني وګړي کهٔ هر څو پهٔ یو ښهٔ کورنۍ کښې پېدا وي او د کورنۍ غړي یې د یو څهٔ مرتبې څښتنان وي خو چې هغهٔ وګړي پهٔ خپل ځان کښې د مرتبې ترلاسه کولو صلاحیت او خصوصیت نهٔ لري نو هیڅ مرتبه نهٔ شي ترلاسه کولے.

**کهٔ ګدا د بل پهٔ**
غولي غرض نهٔ کا
سپے به نهٔ کا پهٔ
ګدا باندې غرض۲۹

سوالګرے تل د بل پهٔ در باندې نظر ساتي او غرض یې وي چې د بل د در نه څهٔ ګټه ترلاسه کړي ځکه خو ورسره د سپو دشمني هم وي. پهٔ دغه تناظر کښې یوه روزمره هم مشوره ده چې کله د دوه کسانو د یو بل سره نالګي وي نو وائي چې "د سپي او د فقیر یې ده". د رحمان بابا د دې شعر دویمه معنا دا کیدے شي چې کله یو انسان د بل انسان د مال پهٔ طمع اوسي چې ځان له ترې فایده واخلي نو دغه انسان ته بیا د بل د اړخ نه ستونزې راپېدا کیږي او زیان ورته رسي. دا شعر د دوه معنو سره یو اخلاقي سبق هم لري نو ځکه وئیلے شو چې د تمثیل پهٔ لوازماتو پوره دے.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

پهٔ تندی چې اتش بل کا مدام شمع
ځکه بيامومي لهٔ خلقه اکرام شمع ۳۰

د شمعي نه بغېر محفل نيمګړے وي نو ځکه پهٔ محفل کښې د شمعي خپل مقام وي. او شمعي ته دغه مقام ځکه ورکولے شي چې شمع پهٔ خپل سر باندې د اور لمبې زغمي او خلقو ته رڼا ورکوي. کهٔ د دې شعر هغه معنا راوسپړو پهٔ کومې کښې چې يو سبق هم پروت دے نو هغه معنا به بيا داسې کوو چې کله يو څوک د خلقو د فايدې لهٔ پاره پهٔ ځان سختۍ تېروي نو پهٔ بدل کښې به ورته لويه مرتبه ترلاسه کيږي. دا شعر د رحمان بابا پهٔ تمثيل نګارۍ باندې يو ښهٔ دليل ورکوي.

چې نصيب يې سينه چاکه زړهٔ افګار شهٔ
جرس ځکه پهٔ فرياد او پهٔ چغار شهٔ ۳۱

جرس پهٔ مينځ بيل شوے وي او دغه بيلول د جرس نه د غږ ويستلو لهٔ پاره خامخا پکار وي. رحمان بابا د دغې خبرې نه بيا دا معنا راوباسي چې کله يو چا سره زياتے اوکړے شي نو هغه بيا خامخا فرياد او شور کوي او دغه فرياد او شور بيا د هر چا غوږونو ته رسي او هر څوک د دغه زور او زياتي نه خبريږي.

هر ګياه چې و کمال ته ورسيږي
سر و زمکې وته کوز کا نګونسار شي۳۲

واښهٔ چې کله ډېر دنګ شي نو بيا يې کمزوري ونه بوج نهٔ شي برداشت کولے او دغه وجه وي چې راتيټ شي. رحمان بابا د ګياه د دغه راتيټېدو نه يو تمثيل جوړوي او وائي چې هر څوک کله يوې مرتبې ته ورسي يا ډېر زيات پرمختګ اوکړي نو هغهٔ له پکار دي چې بيا د خاکسارۍ عادت جوړ کړي او د تکبر او لويۍ ته ځان پهٔ څنګ اوساتي.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

د پائلیزي په توګه وئیلے شو چې د رحمان بابا کلام د تمثیل غوره نمونې لري. څېړنکارانو لۀ پکار دي چې د رحمان بابا د کلام مطالعه د تمثیل نګارۍ په ترڅ کښې وکړي. په پښتو کښې په تمثیل نګارۍ باندې نور کار هم وکړي او د علم لمنه پراخه کړي.

## حوالې

1Lok Raj Regmi، Analysis and Use of Figures of Speech، Journal of NELTA Surkhet Vol.4 December، 2014، Nepal ,p:76-80

2F.G Flower and HW Flower، The Pocket Oxford Dictionary of Current English، Oxford at the Clraendon Press، 5th Edition، 1969, P:20

٣علي اکبر دهخدا، لغت نامه دهخدا، جلد پنجم، موسسه انتشارات وچاپ دانشگاه، تهران، ایران، ١٤٧٧، ص:٢٠

٤ درسی اردو لغت، مقتدره قومی زبانپاکستان، اسلام اباد، ٢٠١٢، ص:٣٩٣

٥خوشحال خان خټک, د خوشحال خان خټک کلیات, تدوین و ترتیب, محي الدین هاشمي, میهن خپرندویه ټولنه, جلال اباد, افغانستان, 2018, مخ: 1294

٦خوشحال خان خټک,د خوشحال خان خټک کلیات, تدوین او ترتیب, سید محي الدین هاشمي, میهن خپرندویه ټولنه, جلال اباد, افغانستان, 2018, مخ: 655

٧پروفیسر انور جمال، ادبی اصطلاحات، اسلام اباد، نیشنل بک فاونڈیشن، 2020، ص:٨٤

8https://academy4sc.org/video/allegory-more-than-a-childrens-story/?hsa_mt=b&hsa_acc=2755491261&hsa_grp=108756711786&hsa_ver=3&hsa_src=g&hsa_cam=11136758096&utm_campaign&hsa_kw=allegory%20definition&hsa_ad=593194501193&hsa_net=adwords&hsa_tgt=kwd-1026765243 (19/07/2022. 12:45PM)

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03




۹لال پاچا ازمون، منظوم انځورونه، د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، ننګرهار، افغانستان،1839، مخ:55

۱۰منظر اعظمی، اردو میں تمثیل نگاری، انجمن ترقی اردو، دہلی، ۱۹۷۷، ص:۵۶-۵۷

۱۱ڈاکٹر گیان چند، تحریریں، ادارہ فروغ اردو، لکھنؤ، ۱۹۶۴، ص:۲۶۹

12Alexander Priniger, Encyclopaedia of Poetry and Poetics

۱۳سلیم شہزاد، فرہنگ ادبیات (لسانی و ادبی اصطلاحات کا توضیحی و تنقیدی مطالعہ)، قومی کونسل برائے اردو زبان، نئی دہلی، بھارت، ۱۹۸۴، ص:۲۸۸

۱٤ڈاکٹر فرمان فتح پوري، تحقیق و تنقید صائقہ بک ڈپو، مٹیا محل دہلی، بھارت، اکتوبر، ۱۹۶۹، ص:۱۸۵-۱۸۶

۱۵حسن زېب , د کاظم خان شېدا په کلام کښې تمثیل نګاري, د ایمفل څېړنیزه مقاله, پښتونخوا مطالعاتي مرکز, باچا خان پوهنتون, چارسده , 2023, مخ:39

۱٦دغه بره اثر, مخ: 43

۱۷خوشحال خان خټک, د خوشحال خان خټک کلیات, تدوین و ترتیب, محي الدین هاشمي, میهن خپرندویه ټولنه, جلال اباد, افغانستان, 2018, مخ: 815

۱۸دغه بره اثر, مخ:775

۱۹رحمان بابا, د رحمان بابا کلیات, تحقیق, ترتیب او سمونه, دوست مُحَمَّد خان کامل مومند او قلندر مومند, مخ: 349

۲۰دغه بره اثر, مخ: 105

۲۱دغه بره اثر, مخ:26

۲۲دغه بره اثر, مخ:33

۲۳دغه بره اثر, مخ: 34

۲٤دغه بره اثر, مخ: 37

۲۵کاظم خان شېدا، دیوان کاظم خان شېدا، مرتبه، همېش خلیل، پښتو ادبي مرکز، بنو ، مخ:23

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

۲۶رحمان بابا، د رحمان بابا کلیات، تحقیق، ترتیب او سمونه، دوست محمؐد خان کامل مومند او قلندر مومند، مخ: 39
۲۷دغه بره اثر، مخ: 100
۲۸دغه بره اثر، مخ: 101
۲۹دغه بره اثر، مخ:106
۳۰دغه بره اثر، مخ:106
۳۱دغه بره اثر، مخ: 242
۳۲دغه بره اثر، مخ: 273